# د شهیدانو اومعلولینو په چارو کې د دولت وزارت د اړیکو مرکز

د اړیکو مرکز د اترا اداري په همکارۍ په ۱۳۹۸م ه ش کال په پیل کې جوړ او د ۱۳۹۸ه ل کال د چنګاښ د میاشتې په ۱۱مه نیټه په رسمي ډول ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

د شهیدانو ورثې او معلولیت لرونکي وګړي کولی شي، له دې مرکز سره په (۷۱۷) شمېره اړیکه ونیسي او خپلې ستونزې، غوښتنې، اړتیاوې، وړاندیزونه او اندېښنې ورسره شریکې کړي.

په ننني عصري ټکنالوژۍ سمبال دا مرکز د یو منظم کاري او مسلکي پرسونل پر مټ د هېوادوالو ټولې اړیکې په سمه او غوره بڼه ځوابوي، د هغوی هر ډول غوښتنې، ستونزې او وړاندیزونه را اخلي او بیا یې له مسوولو چارواکو سره شریکوي، تر څو د شهیدانو وارثینو او معلولیت لرونکو وګړو ستونزو ته پر وخت رسیدنه وشي.

دا مرکز هره ورځ د سهار له اتو بجو نه تر مازیګر څلورو بجو پورې د هېواوالو په خدمت کې دی او نږدې د پنځه سوه هېوادوالو اړیکو ته ځواب ورکوي. د وزارت د هر ډول خدمتونو، لاسته راوړنو، پرمختګونو، عامه پوهاوي، د هغوی د حقونو او امتیازاتو او نورو مهمو مواردو په تړاو ورسره په پوره حوصله منډۍ او لېوالتیا مالومات شریکوي.

یاد مرکز د شهیدانو ورثې او معلولیت لرونکو وګړو لپاره د وزارت خدمتونو، نویو پرمختګونو او فعالیتونو (د بروکراسۍ ختمول، د روڼتیا تامین، زوړ سیستم په نوي برېښنایي سیستم بدلول، د شهیدانو او معلولینو د اسنادو بیا ځېړل، سمول او ارزول، له یوې واحدې دریڅې د خدمتونو وړاندې کول، د خبري سټډیو جوړول، د اسنادو ارشیف او ډیټابیس کول، په مرکز کابل او ولایتونو کې د بشري سرچینو پر جوړښت بیاکتنه، د کارموندنې، زده کړو، د ظرفیت لوړولو او نور ملاتړو خدمتونو په موخه له دولتي او غیردولتي ادارو سره د هوکړه لیکونو لاسلیک کول او په نورو برخو کې د پاموړ لاسته راوړنو او خدمتونو) څخه د خبروي او هغوی ته د اسانه لاسرسي په موخه جوړ شوی دی.

د وزارت مشرتابه او کارکوونکي هڅه کوي، څو د لري پرتو سیمو د شهیدانو وارثین او معلولین، کوم چې رسنیو ته لکه، ټلویزیون، سوشیل میډیا، ورځپانو او نورو رسنیو ته لاسرسی نه لري، له وزارت سره د همدې مرکز له لارې په اسانۍ سره په اړیکه کې شي او خپلې پوښتنې، اندېښنې، ستونزې، غوښتنې، وړاندیزونه او نظرونه شریک کړي.

په ورته وخت کې د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزارت مشرتابه د شهیدانو ورثې او معلولیت لرونکو وګړو څخه غواړي، چې د (۷۱۷) شمېرې له لارې له وزارت سره د چارو اړوند مسایل شریک کړي او له همدې لارې د وزارت

مشرتابه او مسوول چارواکي له خپلو ستونزو او غوښتنو خبر کړي، ترڅو يي ستونزو، غوښتنو او اندېښنو ته رسيدنه وشي او له خپلو حقونو او امتيازاتو برخمن شي.

**د دې مرکز مهمې موخې:**

- د شهيدانو ورثه وو او معلوليت لرونکو وګړو پوښتنې، وړانديزونه، نيوکې، او ستونزې اوريدل او د دوي ستونزو ته په خپل وخت رسيدګي کول.
  د اړيکو مرکز کارکوونکي هڅه کوي، چې د شهيدانو ورثې او معلوليت لرونکو وګړو غوښتنې، پوښتنې، نيوکې، ستونزې او وړانديزونه را ټول کړي او د لازمو اقداماتو لپاره يې له اړوندو چارواکو سره شريکي کړي.

- د وزارت اړوند رياستونو او ولايتي څانګو څخه د سمو او دقيقو معلوماتو راټولول او د شهيدانو ورثه وو او معلوليت لورونکو وګړو سره شريکول.
  ياد مرکز کوښښ کوي چې د شهيدانو او معلولينو په چارو کې د دولت وزارت مرکزي او ولايتي رياستونو فعاليتونه، معلومات او کاري راپورونه را ټول کړي، څو د پوښتني او غوښتني پر مهال يې له مراجعينو سره شريک کړي.

- د شهيدانو د ورثې او معلوليت لرونکو وګړو د حقوقو او امتيازاتو په اړه معلومات ورکول.
  د اړيکو مرکز دا مسوليت لري چې د شهيدانو ورثې او معلوليت لرونکو وګړو ته د مرکز سره د اړيکې په صورت کې د حقوقو او امتيازاتو په هکله مکمل معلومات ورکړي او د هغوی قناعت حاصل کړي.

- هر هغه شخص چې د شهيدانو او معلولينو په چارو کې د دولت وزارت څخه د شهادت کتابچه او يا هم د معلوليت کارت ولري نو اړ دي، چې دحقوقو ترلاسه کولو لپاره بريښنايي پيژند پاڼه ترلاسه کړي؛ نو د بريښنايي پيژند پاڼو

د ترلاسه کولو په اړه د شهیدانو ورثه وو او معلولیت لرونکو وګړو ته لارښونه او معلومات ورکول.

- د وزارت له لوري د نظامي شهیدانو ورثې ته د کوپون او د نورو مرستندویه خیریه بنسټونو په هکله کوم چې، د وزارت په مشرۍ او همغږۍ په دې برخه کې فعالیت کوي، د لاستیوي او مرستو په اړه معلومات ورکول.
- معلولیت لرونکو وګړو ته د هغو ۵۰۰ کاري بستونو په هکله چې د ملکي خدمتونو او اداري اصلاحاتو لخوا اعلان شوي وو، پوره معلومات ورکول او د نوماندۍ لپاره یې اړینه لارښوونه کول.

- د هیواد بېلا بېلو ولایتونو ته د شهیدانو او معلولینو په چارو کې د دولت وزیر محترم لعل الدین آریوبي او مل هیئت د سفرونو، پرمختګونو او لاسته راوړنو په اړه معلومات ورکول.

- په ولایتونو کې د بانکي سازۍ او د بانکي حسابونو پرانیستلو د پیلېدو پروسې په تړاو مهمي او اړیني سپارښتني، لارښوني او معلومات ورکول.
- د معلولیت لرونکو وګړو او د شهیدانو ورثې د اسنادو او وثیقو د سموني او څېړني کمېټو د کار په اړه معلومات ورکول.
- د جهادي معلولینو د حقوقو او خدماتو په اړه معلومات ورکول.
- د دوو شهیدانو او د یوه وکیل په اړه هر اړخیز معلومات ورکول .
- په مرکز کې د معلولیت درجې د تثبیت د صحي کمېسیون او همدارنګه د څو بعدي کمېسیون په اړه معلومات ورکول.
- د هغه شهید چې یوه ورثه ولري، د حقوقو او امتیازاتو د ورکړې په اړه معلومات ورکول.
- له ۱۳۸۰ کال د وړاندې شهیدانو او معلولینو د حقوقو دورکړې په اړه معلومات ورکول.

- د طبيعي يا غير جنګي معلولينو د حقوقو د ورکړې په اړه معلومات ورکول.
- د نابينايانو د ځانګړو ښوونځيو د فعاليتونو، خدماتو، او کارونو په اړه معلومات وړاندې کول.
- معلوليت لرونکو وګړو ته د ښاروالۍ له لوري د غرفو د وېشلو په اړه معلومات ورکول.
- د نظامي شهيدانو ورثه وو او نظامي معلولينو ته په مرکز او ولاياتو کې د ځمکې د وېش په اړه معلومات ورکول.
- د هغه معلوليت لرونکو وګړو په اړه چې عمر يې له اتلس کلنۍ څخه کم وي، د حقوقو د ورکړې په اړه معلومات ورکول.
- او همدارنګه د هغو ټولو هوکړه ليکونو په تړاو چې د شهيدانو او معلولينو په چارو کې د دولت له لوري، د هېواد له بېلا بېلو تعليمي بنسټونو او تحصيلي موسسو سره د شهيدانو ورثې او معلولينو لپاره د مناسبو او غوره زده کړو د زمينو برابرولو په موخه لاسليک شوې دي، مراجعينو (اړيکو نيوونکو) ته پوره او هر اړخيز معلومات ورکول.